# اې حکامو! له چین څخه د کرونا ویروس خبر اوری، خو زموږ د خویندو او ورونو چیغې نه اورئ

**خبر**

د ترکیې روغتیا وزیر فهرتین کوکا پر ټوله نړۍ غږ وکړ، چې په چین کې د رامنځته شوي کرونا ویروس پر وړاندې سره متحد شئ. نوموړي پرته له دې چې د نړیوالو رابللو یا له هغوی څخه مرستې غوښتلو ته په تمه شي، خپلې خبرې وکړې. [News agencies 6/2/2020]

**تبصره**

دا یوه مهمه او د بحث وړ موضوع ده، چې د کرونا ویروس لومړی په ووهان ښار کې راپیدا او وروسته بیا نورو ښارونو ته هم خپور شو، چې ټول ټال ۴۰۰ کسان یې ووژل. د روغتیا وزیر همدا خبره کوله چې له له چین سره باید مرسته وشي، ځکه چین د رواني پېړۍ یو خونخوار هېواد دی او د روان ویروس زغم ورته سخت دی. ایا پوهېږئ چې د روغتیا وزیر په مهال کې د مرستې غوښتنه کوي؟ ایا خبر یئ چې د روغتیا وزیر د کوم ارزښت پر اساس له کافر چین سره د یووالي غوښتنه کوي؟

په داسې حال کې چې د اویغور میلیونونه مسلمانان د کافر چین په زندانونو کې تر سخت ظلم او وحشت لاندې شپې او ورځې تېروي. له خپل دین څخه یې اړوي او اجباري زندانونو ته یې لېږي. مسلمانې خویندې مو د خپل عزت او ابرو د ساتلو لپاره له خپلو کورونو څخه تښتي. پر دې سربېره د چین کمونېست دولت د هر مسلمان پر کور خپل یو کس درولی، ترڅو له عبادت کولو څخه یې منعه کړي.

د دې تر څنګ دغه ظالم دولت یو لوی کمپاین پیل کړی، ترڅو د ختیځ ترکستان مسلمان ځوانان له اسلام څخه لرې وساتي او په ذهنونو کې یې کفري افکار خپاره کړي. دوی هڅه کوي چې مسلمانان له روژې نیولو، نارینه له ږیرې پرېښودلو، ښځې له حجاب اغوستلو او ځوانان جوماتونو ته له تللو څخه منعه کړي. دوی د ختیځ ترکستان مسلمان ورونه د سختو شکنجو له امله دوو لارو (مرګ او مهاجرت) ته اړ کړي دي. په داسې حال کې چې زموږ مسلمان ورونه د یوه داسې مشر په تمه دي، چې له دغه وحشتناک او ظالم نظام څخه یې وژغوري.

د ترکیې د روغتیا وزیر په داسې حال کې د مسلمانانو د قاتل هېواد لپاره د مرستې غوښتنه کوي، چې د مسلمانانو پر وړاندې هر ډول جنایتونه او ظلمونه روا عمل بولي. ایا تاسو په داسې خبرو کولو سره له الله سبحانه وتعالی څخه نه وېرېږئ؟ له چین څخه د کرونا ویروس خبر تر تاسو پورې رسېږي، ایا د کافر دولت تر شکنجو لاندې د مسلمانانو خویندو او ورونو چیغې تر تاسو پورې نه رسېږي؟ د یاد ویروس له امله د ۴۰۰ چینایانو پر مړینې خبر یاست، ایا په چینایي زندانونو کې تر سخت ظلم لاندې د میلیونونو مسلمانانو پر مظلومیت خبر نه یئ؟

په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

## «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ»

*ژباړه: يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، ځکه هېڅکله پر هغه ظلم نه کوي او نه يې ظالم ته سپاري.*

خو تاسو په خپلو کې له کفارو سره د مرستې سيالي کوئ او مسلمان ورونه مو له ياده ايستلي دي. په حقيقت کې د الله سبحانه وتعالی په نزد دا يوه لويه ګناه ده؛ ايا تاسو ترې خبر ياست؟

ايا دا امکان لري چې په ختيځ ترکستان کې د خپلو مسلمانو ورونو له مظلوميت او چيغو څخه بې خبره وئ؟ زموږ د خويندو پر عزت تېری کېږي، ايا د ژړاوو او فريادونو اواز يې ستاسو تر مانيو نه رسېږي؟ د خدای لپاره، ايا پر مسلمانو خويندو او ورونو روان ظلم نه وينئ؟ که يې وينئ، نو زړونه مو تيږې اوښتې دي که څنګه؟ يا د سياسي ګټو د لاسته راوړلو لپاره چوپ يئ؟ يا دا چې د مسلمانو خويندو او ورونو قرباني ته رښتينی سياست وايئ؟ يا هم د خپل رب په پرتله د چين پر وړاندې حساب او کتاب درته ارزښت لري؟

دا يو حقيقت دی چې له کافر چين سره رواني سوداګرئ له حقيقت ويلو څخه منعه کړي يئ، خو د خپلو مسلمانو ورونو او خويندو اوازونه مو هم واورئ. د هغې ورځې د راتلو په اړه پوه شئ، چې شتمني به مو بيا هغه مهال هېڅ ګټه نه لري. ستاسو مسووليت دا دی، چې يوازې د خپلو مسلمانو ورونو ټپونو ته پټی شئ، نه د چين کافر دولت ته. د ختيځ ترکستان مسلمانان ستاسو ديني وروڼه او خويندې دي؛ له همدې امله پر تاسو فرض دي چې د بې دينه دولت له ظلمونو څخه يې وژغورئ. که غواړئ چې د رب پر وړاندې مو د نېکۍ تله درنه شي، نو له الهي امر او نهې سره سم عمل وکړئ.

اساسي خبره دا ده چې يوازې د الله سبحانه وتعالی له دوستانو او مومنانو سره مرسته وکړو؛ برعکس د هغه سبحانه وتعالی له دښمنانو، ګنهکارانو او مجرمينو سره بايد اړيکې پرې کړو او ترې متنفر شو. دا د اسلام غوښتنه ده او الله سبحانه وتعالی پرې راضي کېږي. الهي رضايت دا نه دی، چې د اوسنيو چارواکو په څېر د الله سبحانه وتعالی له دښمنانو سره دوستي وکړو او له دوستانو سره يې دښمني. له بده مرغه پر موږ ډېری واکمن کسان د کفارو خوښۍ ته ارزښت ورکوي. په هر حال ټولو هغو کسانو ته به څرګنده شي، چې د کفارو د خوښۍ لپاره کار کوي، چې په دې ډول به هېڅکله الهي رضايت تر لاسه نه کړي.

موږ دغه چارواکي ښه پېژنو، دوی په کفارو پسې د غلامانو په څېر تړلي دي او د مسلمانانو چيغو ته ځواب نه شي ويلی. يوازې رښتينی خلافت د مسلمانانو له ژوند او وينو څخه په سمه توګه ساتنه کولی شي، چيغو ته يې ځواب وايي او مرسته ورسره کولی شي.

﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ ٱلْمُؤْمِنُونَ﴾

[الروم: ۴]

***ژباړه:*** *پر هغه ورځ به مسلمانان خوشحاله وي.*

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## لیکوال: عبدالله امام اوغلو